مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۰/۰۵/۱۹

# د درد پیغامونه

هر دم مې، زړه تـــه ستـــا یادونه رسي
زما په قســـــــمت کې، کړاونه رسي

واړه جهان که خو شحالي کې وي ډوب
ما ته لـــــه هر خوا نه غمـــــونه رسي

چي د عالـــــم غمونه، واخــــلم په سر
زمـــا غمـــګین زړه تــــه دردونه رسي

هر یو ژوندون ځــخه خـــوندونه اخلي
ما ته نصـــــــیب کـــــي آزارونه رسي

په سســـــت بنیـــاد چي د دنیـــا وژاړم
ما ته د اوښـــــــکو کـــــاروانونه رسي

هر یو غـــافل کړي، په دي چمــــن تغافل
ما ته په برخـــه فریـــــــــادونه رسي

چي په هر ګل او خار و خــس کړم ژړا
راته د اوښـــــــــکو دریابونـــه رسي

چي یو شیبـــــه کړمه درد من زړه قرار
بیـــــا راته رمز کې، پټ رازونه رسي

هلته چي ځان کي، بل جـــــــهان وینمه
عــــــبرت غوږو تــــــه آوازونه رسي

خلک د وصل په ساحـــل کي دي ناست
ما ته د هجر طـــــوفـــــانــــونه رسي

کلـــه له ځان او له جـــهان شم غـــافل
کلـــه تر عرشـــــه مې، آهـــــونه رسي

هیڅ وخت فــــارغ له بیـــــخودۍ نه، نه یم
چي ستا د سرو شو ندو جــامونه ،رسي

چـــــي مړ احســـــاس راته راوپاروي
د زړه تارو ته، چـــا لاســــــونه رسي

نه یم خبر چي مې ســــــتومــانه زړه ته
له کومــــــــي خوا نه، پیغــامونه رسي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ